مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۶/۰۳/۲۳

# پنجابی شاعر

دئ خوړلی دلته روس امریک فرنګ سر
په قدم قدم دی پروت پر هر ګرنګ سر

ټولواکان زما له هیبت څه ریږدیدله
زما د لاس څه په سر درد وو د اورنګ سر

چي ارزو یې شهادت وي څه به ډار کړي
ما ورکړی هر میدان کي دی په ننګ سر

ماته درس د ازادۍ مورکی را کړی
په نړۍ باندي یادیږمه هسک دنګ سر

زما خاوره زما ولس زما معشوقه ده
لولپه کا پر دیوه باندي پتنګ سر

چي پروا د مرګ او ژوند ورسره نه وي
دار به ولي کړي د مرګ څه د ملنګ سر

دښمنان مي په زګیروي اوري پر اړخه
چي لیدلی چا په وینو د خدنګ سر

چي یې شرنګ تر غوږو سوی زما د توري
سل برستونو لاندي ځملي د پالنګ سر

د ناتوانه خیال پر ما مه کړه غلیمه
ما پیل کړی په نړۍ کي د غورځنګ سر

حضیره د ټولواکیو کور زما دئ
زما کوټلو ځخه هیر سو د اونګ س ر

چي و خاورې ته زما په بدو ګوري
غرو زما کي دئ پهره د شېر پلنګ سر

هم په صلح هم په جنګ باندي پوهیږم
د افغان سر دئ همیش د صلحي جنګ سر

د نومیر فخر او ویاړ سي په شېربریتو
پنجابی شاعر دي ستایي خپل بدرنګ سر

۱۲- فبروري -۲۰۲۶
متحده ایالات - جنوبي کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ